استقلال خپلواکی
www.esteqlaal.net

تهیه، ترتیب و ارسال: سلیم سالم پنجشنبه ۱٤ جولای ۲۰۲۲

# لاله نرنجنداس څوک و؟

-

لاله نرنجنداس یا دیوان نرنجنداس دافغاني هندوانو نه و چي په۱۸۵۳ زیږدیز میلادي کال کې په کا بل کې زیږیدلی و. ده ته یې ځکه دیوان وایه چې په دفتري او حسابي چارو کې ډیر تکړه او ما هر و او له پخوانیو وختونو راهیسي په افغانستان کې ددفتري چارو کارکوونکو او منشیانو ته د دیوان خطاب کیده.

کله چې د امیر عبدالرحمان خان تر مړینې وروسته، امیر حبیب الله خان د افغانستان واکمن شو نو لاله نرنجندانس په پوځي ښوونځي کې شامل شو او تر فارغیدو وروسته د بیرګډ( غنډ مشر ) رتبې ته ورسید.نوموړی د همدې باچا په وخت کې د اعیانو د مجلس یا دارالشورا غړی هم و.

کله چې د افغانستان د خپلواکی اتل غازي امان الله خان د افغانستان واکمن شو نو لاله نرنجنداس یې پخپلې کابینې کې د افغانستان د مالیې دیوان یا دمالیې وزیر وټاکه چې ده دغه دنده په پوره اخلاص او صداقت سره ترسره کړه.

همدارا ز لاله نرنجنداس د اعلیحضرت امان الله خان په وخت کې په هغه غونډه کې د افغاني هیئت غړی و چې په ۱۹۲۰زیږدیز کال د اپریل د میاشتې په ۱۲ د هند په میسوري کې جوړه شوې وه او دی یکې د افغانستان د رسمی هیأت غړی و . د دې هیأت مشر د امان الله خان د بهرنیو چارو وزیر محمود طرزي، مرستیال یې د خارجه وزارت د سرحداتو مسؤول عبدالهادي داوي، د سوداګری وزیر غلام محمد خان، پیر محمد خان تره خیلی او په هند کی افغاني مستشار غلام صدیق خان څرخي وو. خو ځینې تاریخپوهان داسې نظر لري چې ګواکې امان الله خان د انګریزانو سره د خبرو اترو په دغو ناستو کی د نرنجنداس د ټاکلو نه سیاسی ګټه اخیستله. یعنی دا چې امان الله خان غوښتل په دې ډول د هندوستان ولسونه او په تیره بیا هندوان د آزادئ غوښتلو له پاره ولمسوي. د برتانوي هند حکومت د نرنجنداس د ګډون څخه ډیر نا آرامه شو، دا ځکه چې د هندوستان د خلکو پاملرنه

یې افغانستان ته واړوله . خو حقیقت دا دی چی امان الله خان د نرنجنداس د اداري او حسابي استعداد نه په بشپړه توګه خبر و، نو ځکه یې د مالیې د وزارت مقام ور وسپاره.

د لاله نرنجنداس یوه لونی رادها نومیدله چي د کابل خلکو ورته رادو ویله . ویل کیږي چي رادها ډیره ښکلې وه او لاله نرنجنداس ورته د نارینه وو جامې جوړې کړې وي او هرې غونډې ته به یې له ځانه سره بیوله ، د دې په اړوند د کابل خلکو په دری ژبې شعرونه جوړ کړي وو چې یو بیت یې په لاندې ډول دي:

او دختر دیوان بی بی رادو جان

لاله را قسم دادم که رادو را نسوزان

چې دغه سندره د ډاکټر صادق فطرت ناشناس له خوا هم ویله شوې ده.

کله چې غازي امان الله خان د سقاوي غلو په دسیسه کې د افغانستان پریښودلو ته اړشو نو لاله نرنجنداس هم د دې لپاره چې دی د امان الله خان د کابینې وزیر و د هیواد پریښودلو ته اړشو او هند ته لاړ.

نرنجنداس دوې لونې ئې لرلې چي یوه ( رادها ) او بله ( زارا ) نومېدلې.

رادها له سیکي خورا ښایسته وه چي د کابل خلکو به له نازه( رادو) بلله چي وروسته په (رادو جانه) مشهوره سوه. هغې به د کوچنیوالي څخه د هلک کالي اغوستل او د خپل پلار سره به اوږه پر اوږه په رسمي او غیر رسمي غونډو، محافلو او میلمستیاوو کي راڅرګندېدله او داسي ئې ښوول لکه د پلار زوی چي وي.

کله چي د هغې پلار نرنجداس امان الله خان د خبرو د پاره راولپینډۍ ته ولېږه، باور عام داسي وو چي ښایي له دې کاره [له مسلمان هیواد څخه هندو استازی لېږل] به د هغه موخه دا وه چي هندوستانیانو ته وښیي چي تاسي هم خپلواکي اخیستلای سئ!

کله چي امیر امان الله خان د سقاوي بغاوت له امله ایټالیا ته ولاړ، د نرنجداس او رادو جاني ژوند هم د خطر سره مخامخ سو او باالاجبار هندوستان ته وخوځېدل. رادو جانه په سپین سرتوب کي یو ځل افغانستان ته راغله او تر لږ مودې تیرولو وروسته د تل له پاره بیرته هند ته ولاړه. هغې هلته هم د ژوند تر پایه واده و نکړ او همداسي مړه سوه.

دا چي رادوجانه ډیره ښکلې پیغله وه او د هر چا به خوښېدله او ان یو وخت خو د کابل مجلس عنوان همدا رادو جانه وه چي هر چا ئې مفته ستاینه کوله. د کابل ډیرو ځوانانو زړونه پر بایللي وو، څنګه چي هغې تل د خپل پلار سره سلطنتي دربار او غونډو ته تګ راتګ درلود، نو مَینانو ئې دا جرأت


نسو کولای چې هغې ته د خپل عشق اظهار وکړي . نو هغوی به اړ وه چې د خپلو زړونو فریاد په دې شعر سره پر ژبو راوړی او د هغې پر پلار بږغ  وکړي چي دا د ګل غوندی نازکه او ښکلې پېغله خو تر مړینی وروسته قطعأ د سوځولو وړ نه ده، یعنی:

او دختر دیوان بی بی رادو جان

لاله را قسم دادم که رادو را نسوزان

رادو جانه وروسته بیخي ارګ کي د ننه د شاهي کور د ښځو په څیر د هغوی سره راسه درسره لرله او وروسته خو نو د موري زوی زړه نسوای کولای چې مرکه ورته وکړي، دا ځکه چی رادو جانه په اصطلاح [سردارخېله] وه .




عکس ها از منابع مختلف